## د طبي انجینري ټکنالوجۍ د ډیپارټمنټ لنډه پېژندنه

د بایـو میـډیکل انجینـرۍ ټیکنالـوژۍ فارغـده برنـامې د ډېـرو نړیوالـو پوهنتونونـو د لیسـانس پروګرام په لیسـت کې شـتون لـري. دا پروګرام د پراختیـا پـه جریـان کې د بیـو میـډیکل انجینـري او د بایـو میـډیکل انجینري ټکنالـوژۍ په نومونـو پېژنـدل کیـږي، چې لسګونـه کلونـه پخـوا پـه ځینـو پرمختللـو پوهنتونونـو کې رامنځتـه شـوي چې اوس تقریبـا د نـړۍ او سـیمې هیوادونـو پـه زیاتـره پوهنتونـو کې شـتون لـري او د ټکنالـوژۍ لـه مخکښـو او بـا اهمیتـه څانګـو پـه توګـه فعالیـت لـري چې د طبابـت پـه ډګـر کې یـې سـتر بدلـون رامنـځ تـه کـړی. مختلـف طبـي ماشـیونونه د تشـخیص او تـداوۍ په موخـه جوړ شـول (لـه سـتاتسکوپ څخـه نیـولې تـر سـیټي سکـن او ام آر آی ماشـینونو پـورې) لا زیـاتې نمـونې یـې مـوږ پـه مختلفـو روغتونونـو کې وینـو چې پرتـه لـه دغـو پرمختللـو ماشـیونونو طبابـت نمیګـړی ګڼـل کیـږي. دغـه ماشـیونونه لا پراختیا، په هیواد دننه تولید، نصب، سمې ساتنې او بیارغونې ته اړتیـا لـري چې تـر ۱۳۹۵ کال پـورې پـه افغانسـتان کې داسې تحصیـلي بنسـټ شـتون نـه درلـوده چې پـه یـاده څانګـه کې مسـلکي کادر وروزي.

پـه ۱۳۹۵ کال د کابـل طبـي علومـو پوهنتـون رسـما د طبـي تجهیزاتـو ټکنالـوژۍ کمیونیټـي کالـج د هیـواد صـحي سکتـور لپـاره د طبـي تجهیزاتـو د نصـب، بیارغـونې او سـمې سـاتنې پـه موخـه د مسـلکي کادر د روزنې پـه موخـه تاسـیس کـړ چې لـه نیکـه مرغـه تـر اوسـه پـورې یـې څلـور دورې پـه بریـالۍ توګـه فارغـان ټولنې تـه وړانـدې کـړي او ډېـرو یـې دنـدې هـم تـر لاسـه کـړي. یـاد کمیونیټـي کالـج د مسـلکي کادر د روزنې ترڅنـګ د نوښـت پـه برخـه کې مختلـف طبـي ماشـینونه هـم لکـه (ونتلاتـور یـا د مصنـوعي تنفـس ماشـین، د آکسـیجن ماشـین، د ساکشـن ماشـین، سـنټر فیـوز، نیبولایـزر، شـیکر ماشـین او واتـر بـات ماشـین) ډیزاین او په لږ لګښت جوړ کړي دي.

د هیـواد د صـحي سکتـور د بیـړنۍ اړتیـا لـه مخې د تېر یـو کال راهیـسي د پوهنتـون د رهبـرۍ پـه سپاربښـتنې او مرسـتې سـره د بایومیـدیکل انجنیـري څانـګې د لیسـانس پروګـرام د تاسـیس لپـاره چټـک او رغنـده کارونـه ترسـره شـول چې لـه نیکـه مرغـه دا دی د لـوړو زده کـړو وزارت پـه (۰۸) ګڼـه ۱۴۴۴/۱۱/۳ نیټې عـالي شـورا کې د یـادې څانـګې رامنځتـه کېدل هم تایید او منظور شو.






د لوړو زده کړو وزارت

کابل طبي علومو پوهنتون "ابوعلي ابن سینا"

# د طبي انجنیري ټکنالوجۍ

# تکنالوژی انجنیری طبی

# Biomedical Engineering Technology

دیزاین: آمریت ارتباط و آگاهی عامه

Kabul University of Medical Sciences -KUMS
Afghan Medical TV - KUMS

## د طبي انجینري ټکنالوجۍ ډیپارټمنټ لخوا نور ډیزاین او جوړ شوی ماشینونه



سیروم وارمر



سکشن



سنتر فیوج



UV Light



Dry Bath



شیکـر

## لیدلوری

د طبي ټکنالوژۍ د انجنیري ډیپارټمنټ ژمن دی چې د نوښت او خلاقیت له لارې د افغانستان د لوړو زده کړو په سکتور کې په ملي کچه د طبي تجهیزاتو ټیکنالوژۍ علومو په برخه کې یو له مسلکي، بنسټیزو او ښه مجهز ځانګو څخه و اوسیږی.

## دندې

د طبي ټکنالوژۍ د انجنیري ډیپارټمنټ د کابل د طبي علومو پوهنتون یو له بنسټیزو څانګو څخه دی، چې د طبي وسایلو د ټکنالوژۍ په برخه کې محصلینو ته د اړتیا وړ درسي مفردات د اړوند نصاب له مخې په نظري او عملي بڼه په معیاري ډول وړاندې کوي. د باوري سرچینو څخه درسي کتابونه چمتو کوي او زده کونکو ته یې وړاندې کوي، سربېره پردې، په فعاله توګه په څېړنیزو او علمي پروګرامونو کې برخه اخلي.

## ارزښتونه

- د الله تعالی رضایت ترلاسه کول
- ژمنه
- ټیمی کار/ګډې هڅې
- د زده کوونکو ترمنځ د عدالت تامینول
- بې پرې توب
- روڼتیا
- د اسلامي اخلاقو او رواجونو پلي کول
- نوښت
- ښوونه او روزنه
- همکاري
- حساب ورکول او روڼتیا

## د ICU ناروغانو تخت

### ځانګړتیاوې

- مکمل اتومات (خودکار)
- ۵ حالته (Position)
- فول آپشن
- ښه کیفیت، ټیټ قیمت



## د آکسیجن د خالص کولو ماشین (Oxygen Concentrator)

### ځانګړتیاوې

- د ۱۵ لیتره آکسیجن د تولید وړتیا
- د ۹۳ سلنه څخه لوړ خالص آکسیجن
- د مرطوب کولو وړتیا لرل
- په بازار کې تر 10 لیتره ډیر ظرفیت شتون نلري تر اوسه
- د نیبولایزر درلودل
- لګښت 41000 افغانی
- بازار کې اوسنی قیمت تر 100000 افغانۍ لوړ



## Infant Incubator

### ځانګړتیاوې

- د اړتیا په اندازه په اتومات ډول د تودوخې درجې چمتو کول
- د حرارت د درجې ښودل
- د رطوبت چمتو کول
- د رطوبت سلنه ښودل
- د ماشومانو د اکسیجن کچې ښودل (SPO2)



## Infant Warmer

### ځانګړتیاوې

- د اړتیا په اندازه په اتومات ډول د تودوخې درجې چمتو کول
- د حرارت د درجې ښودل
- فوتوتراپي (UV) وړانګې لرونکی
- په اتومات ډول د وضعیت اخیستو وړتیا

